# د نادر خان بزمي په افسانو کښې ترقي پسندي

**An Analysis of progressive thoughts in the short stories of Nadir Khan Bazmee**

ډاکټر ښایسته پروین*
ډاکټر کرن سینین♣

## Abstract:

In the pre-partition period in Pashto literature there was an eminent Pashto short story writer Nadir Khan Bazmi. He was the first to publish his first collection of Pashto short story. Although he was no directly linked with the Progressive Writers Movement, however, his short stories represent the social, moral and economical disparities in the Pakhtun society. He criticizes the ignorance of the Pakhtuns in education, over-value of the some social customs and he emphasizes on not compromising attitude. He rebukes the social evils in our day-to-day life and appeals the feelings of a reader to think over it. He elieves on humanity and urges to respect it. He had a realistic approach to the ground realities of life and believed on art for life not for an art, therefore, his short-stories mostly represent the downtrodden people of the society.

نادر خان بزمي د آزادۍ نه وړاندې د پښتو د ګوتو په شمېر یو څو افسانه نګارانو کښې سر اېستلی افسانه نګار ګڼلی کېږي. د شلمې صدۍ په څلورمه لسیزه کښې د هغهٔ لیکلې افسانې د خپل وخت د ډېرو ادب ذوقو پام ځان ته راګرځولی ؤ چې تر اوسه د هغوی افسانې د ادب د طالب علمانو په ذهنونو نقش دي او چې کله هم د افسانې بحث وچېړلی شي نو د هغوی نوم او کار ته په درنه سترګه کتلی کېږي او د پښتو د افسانې په تاریخ کښې د هغوی یکي یوې مجموعې "پلوشې" ته دا اعزاز حاصل دی چې د پښتو په جدید افسانوي ادب کښې دا وړومبی کتاب دی چې د اجمل خټك په مرسته د بزمِ ادب اکوړه خټك د سپوري لاندې په 1951ء کښې د ادب په اسمان لکه د ستوري وځلېدهٔ. اجمل خټك په خپل کتاب "قیصه زما د ادبي ژوند" کښې لیکي:

* Lecturer, Pakhtunkhwa Study Centre, Bacha Khan University, charsadda
♣ Assistant Professor, Pakhtunkhwa Study Centre, Bacha Khan University, charsadda

زمونږ د بزم یو ښاغلي ملګري نادرخان بزمي د ټوپۍ (صوابۍ) د پښتو قيصې وليکلې او دا قيصې مونږ د ''پلوشې'' په نوم کتابي شکل کښې چاپ کړې...... زما مطالعه او اندازه ده چې دا مجموعه د پښتو لنډو قيصو وړومبۍ مجموعه ده ١

د هغه وخت ډېرو ادب ذوقو دې کتاب ته هرکلی ووې او د نادر خان بزمي افسانو ستائينه ئې وکړه.

نادر خان بزمي که هر څو د ترقي پسند تحريك په هنګامه خېز دور کښې په پښتو افسانه ګوتې پورې کړې وې خو هغه د ترقي پسند تحريك باقاعده غړی پاتې شوی نۀ دی. کله چې په اردو ادب کښې د 1936ء په کال د ترقي پسند تحريك اغاز وشۀ او ډېرو اديبانو، شاعرانو په خپلو ليکونو کښې په شعوري انداز او منظم ډول د ترقي پسند تحريك د نظريې او منشور د ترجمانۍ قصد وکړه نو اثرات ئې پښتونخوا ته هم راورسېدل. فارغ بخاري په خپل يو مضمون کښې ليکي:

پورے صوبہ سرحد میں پشاور کے علاوہ کوہاٹ، مردان، ڈیرہ اسماعیل خان، نوشہرہ اور بنوں تک انجمن کی شاخیں قائم ہوگئیں اور ہر جگہ ہفت روزہ تنقیدی اجلاس باقاعدگی سے ہونے لگے ۲

د پښتو شاعرانو او اديبانو د ترقي پسند تحريك اثرات په خلاص مټ قبول کړۀ چې په نتيجه کښې د صنوبر حسېن کاکاجي په مشرۍ کښې د اولسي ادبي ټولنې بنياد کښېښودی شۀ او د اسلم په نوم يوه مجله هم د چاپ په ډګر روانه کړی شوه چې په کښې د کلك فکري او نظرياتي ليکونکيو مضمونونه، افسانې او شاعري چاپ کېدل. په پښتونخوا کښې د صنوبر حسېن کاکاجي دې کاوش ته هر کلی وئيلی شو او هر هغه ليکونکی چې ورته مونږ کمټېډ (Committed) ترقي پسند ليکونکي وئيلی نۀ شو او د اولسي ادبي ټولنې د دائره اثر نه بهر وو. د هغوی په افسانو او شاعرۍ کښې هم د مظلومې طبقې سره د خېرخواهۍ جذبات او د بې وزله کسانو په حق کښې د اواز پورته کولو انګازې محسوسېږي. په داسې ليکونکيو کښې يو نادر خان بزمي هم دی چې د ترقي پسند تحريك کلك اصول ئې په ځان منلي نۀ دي خو په معاشره کښې روان د مظلومې طبقې سره بې رحمانه سلوك، د هغوی په استحصال او د ظلمونو کلك نظر ؤ او د خپل حساس طبيعت له کبله ئې د بې وزله طبقې سره د خواخوږۍ اظهار کړی دی. که مونږ د هغوی د افسانو په غور مطالعه وکړو نو د هغوی ډېرو افسانو کښې ترقي پسند رجحانات ښکاره ليدی شي چې هغې کښې د هغوی وړومبۍ افسانه ''عارفه'' ده.

زمونږ په معاشره کښې بې وزله جينکۍ خپل پېغلتوب د مشرانو په خوښه او لالچ د ډېر دولت د اخستو په عوض قربان کړي. د خپلې پښتو، حيا او د شرم له کبله د خپل ټول ژوند

سودا د بل په ژوند کښې د سکون او سوکالۍ راوستو له سره ځار کړي. په کومه معاشره کښې چې دا بې انصافۍ رواني وي او د لور خور په سر سودا کېږي نو زمونږ حساس افسانه نګاران به دغه بې انصافۍ په خپلو افسانو کښې په ګوته کوي.

نادر خان بزمي هم په دغسې حساس افسانه نګارانو کښې يو افسانه نګار دی چې هغوی د خپلې مجموعې ''پلوشې'' په وړومبۍ افسانه ''عارفه'' کښې د عارفې د کردار مظلوميت ښکاره کړی دی.

عارفه يوه بې وزله جينۍ ده چې خپل پېغلتوب د خپلو مشرانو په خوښه د ډېر دولت په عوض قربان کړي.

نادر خان بزمي صاحب د پښتو ادب په اولنيو افسانه ليکونکو کښې راځي. دوی چې په کوم دور کښې سترګې اوغړولې هغه د سياسي اړې ګړې او د انګرېز د جبر او استحصال نه ډک دور ؤ. د پاکستان جوړېدو نه اګاهو په دغه دور کښې چې ډېر کړکيچن ؤ او د ادبي او سياسي هلو ځلو دپاره سازګار نۀ ؤ په ټول هندوستان کښې اوپه تېره تېره په پښتونخوا کښې د انګرېزانو جبر او استحصال د پښتنو خلاف ډېر په زور کښې ؤ. خدائي خدمتګار تحريک د خپل مددپه خپله داصول لاندې په پښتون قوم کښې داولسي ښېګړې او د انګرېز نه د ازادي د ګټلو دپاره د عدم تشدد د اصول لاندې يوه نوې جذبه راپېدا کړې وه چې هغې په پښتو ادب هم ژور اثر غورځولی ؤ او بيا په پښتو ادب کښې د ترقي پسند تحريک هم اکثر ليکوال ډېر متاثره کړي وو چې هغوی په دې وجه په خپل ليک کښې د ژوند تراخۀ او خواږۀ حقيقتونه بغېر د څۀ مبالغې نه ليکل او بيانول شروع کړل او د ادب رشته ئې ژوند سره اوتړله چې ادب د اولس ترجمان اوګرځي. په دې لړ کښې يو نوم د بزمي صاحب هم دی چې هغۀ د خپلې افسانې او شاعرۍ په ذريعه په پښتو ادب کښې د اولس د ژوند نمائندګي کړې ده. د بزمي صاحب په حقله ستر ليکوال ښاغلی همېش خليل ليکي چې:

"بزمي ادبي دنيا کښې د يو افسانه نګار او هم شاعر په حېثيت پېژندلی شي اګر که د افسانو مجموعه ئې ډېره پخوا چاپ شوې ده. چې پښتو افسانوي ادب کښې وړومبۍ په کتابي شکل د افسانو مجموعه ده. د راحت زاخيلي نه پس پښتو افسانه نګارانو کښې بزمي يو جوت مقام لري. د دوی افسانو کښې د احساس شدت او افسانې په فن د ګرفت او خپل چاپېرچل د تصوير جوړونې صلاحيت دوی ته يو داسې مقام ورکړی دی چې د خپل دور په افسانه نګارانو کښې به د دوی ذکر خامخا کېدلی شي. موضوعات ئې د روزمره ژوند هغه واقعات دي چې د عام اولس په نظر نۀ راځي او ديو شاعر په حېثيت شاعري د دوئي د ذاتي کيفياتو او اجتماعي

واقعاتو هغه عکسونه دي چې د شاعر خپل احساس او فکري بې قراري په کښې هم محسوسيږي۳.

د بزمي صاحب د افسانو په حقله ډاکټر انيتا اعظم د خپل خيال څرګندونه کوي وايي:

"ددې افسانو ماحول هم زمونږ روايتي ساده باده کلي وال ماحول او کردارونه ئې زمونږ د سترګو بلد او پېژندګلو خلق دي خو د ليکوال د بيان انداز ډېر تيرهٔ او د طنز نه ډک دی او د هرې افسانې په شانې يو درند مقصديت هم بريښي"4.

دا افسانه د هغه بدبخته زوئی باره کښې ده چې خپلې مور له څهٔ نه څهٔ مسئله جوړوي او د هغې د رنځ دپاره نوې نوې مسئلې راولاړوي او په اخر کښې ددې دلاسه هغه ژور قبر ته اورسي. اختری د بوډۍ مور يو زوی ؤ. بدمعاشانو سره ګرځي اخر د قتل په کېس کښې ئې پوليس ونيسي. مور ئې د خفګان نه مړه شي او دی د مورجنازه کښې شريک نهٔ شي. بې روزګاري، غريبي چې د ترقي پسند فکر او خيال ترجماني ده. دا هم يو اصلاحي او ترقي پسند سوچ لرونکې افسانه ده چې د پښتو معاشره کښې د تربيت د کمي او مور پلار د مدد نهٔ پېژندو په وجه داسې مسئلې پېښېږي. بله مشهوره افسانه د بزمي صاحب "انسان" دی. چې په هغې کښې د امن و امان په خراب صورتحال باندې بحث دی. چې څنګه انسان د خپل غرض دپاره خونړی شي او بيا د نورو انسانانو خونه ورانوي. په هغې کښې دی د بنهٔ او بد تميز نهٔ کوي او د هر چا د مرګ تابيا کوي. د بزمي صاحب د فن په حواله اسير منګل ليکي چې:

*"موضوعات کے لحاظ سے ان کے تمام افسانے نمبر ایک ہیں زبان سلیس اور عام فہم ہے لیکن فن اور تکنیک کے اعتبار سے ان میں کچھ کہنے کی گنجائش ضرور ہے مگر یہ بھی ایک حقیقت ہے کہ راحت زاخیلی اور ماسٹر عبدالکریم کے بعد یہ تیسرے بڑے افسانہ نگار ہیں جنہوں نے پشتو افسانے کو بہت کچھ دیا"*(5).

بزمي صاحب په پښتون معاشره کښې د خان و دهقان کردار ته ډېر په ژور نظر ګوري. د هغهٔ افسانه "مهرباني" دغه رويه ښائي چې څنګه خان د خپل نوکر دوراني نوی وادهٔ کړې ښځې سره تعلق زياتولو په غرض هغې له اول د پنځو سونوټ ورکړي او په دې چل د پيسو په زور هغه د غريب سړي عزت واخلي او هغې سره لوبې کوي"6.

عظمت هما په دې باره کښې ليکي چې:

*"نادر خان بزمی ماضی قریب میں ہونے والے واقعے ( دورانے کی شادی ) سے افسانے کا مرکزی موضوع (Theme) منسلک کرتے ہوئے افسانے میں اس مقصد کا ابلاغ کرنا چاہتے ہیں*

کہ ہمارے دیہاتوں کے سادہ اور بھوک سے نڈھال لوگ ظالم سماج کے شکنجے میں ایسے پھنس چکے ہیں کہ وہ انکی ہر بات۔۔۔۔۔ چاہے وہ معصوم غریب بیٹیوں اور بیویوں کے جنسی استحصال کی شکل میں ہو یا ان کی معاشی استحصال کی روپ میں، کو مجبوری کے تحت قبول کرلیتے ہیں"(7).

د بزمي صاحب افسانه "مهرباني" باره کښې د پښتو ادب نوموړی شاعر، اديب او محقق ډاکټر محمد اعظم اعظم ليکي چې:

"مهرباني (افسانه) کردار نګاری سره سره د مشاهدې ژور والی د نظر تېزي او د افسانې د رموز او اشارې نزاکت هم ځان ښودلی دی (8)"

مهرباني افسانه د ترقي پسندو د حقيقت نګارۍ او بې باکۍ يوه ښائسته نمونه ده.

د پښتو ژبې محقق او نقاد ښاغلی حنيف خليل د بزمي صاحب په حقله ليکي چې:

"نادر خان بزمی نے پشتو ادب میں کئی اچھے افسانوں کا اضافہ کیا ان کے افسانے ۱۹۴۰ اور ۱۹۴۵ کے درمیانی عرصے کے بہترین افسانہ مانے جاتے ہیں۔ پشتو ادب میں افسانوں کا جو پہلا مجموعہ "کرنیں" (پلوشے) کے نام سے چھپا کے خالق بھی نادر خان بزمی ہی ہیں۔ انہوں نے جدید تعلیمات، پشتونوں میں پیدا شدہ بعض بے اعتدالیوں کم علمی سے پیدا شدہ کمزوریوں، پشتون اور محبت، رسم و رواج کی ناعاقبت اندیشیوں اور روشن خیال پشتونوں کی ضرورت و اہمیت کے موضوعات پر افسانے لکھے ہیں۔ ان کے افسانوں کے مطالعے کے بعد یہ اندازہ لگانا مشکل نہیں ہے کہ وہ اردو افسانے سے متاثر ہیں تاہم پشتو میں انہوں نے جتنے بھی افسانے لکھے ہیں ان کے پلاٹ اپنے آس پاس کی زندگی سے لیے ہیں۔ اور ان کو بڑی فنکاری سے نبھایا ہے۔ انہوں نے اپنے افسانوں میں زیادہ تر پشتونوں کے اس طبقے کی عکاسی کی ہے جو جدید تہذیب سے متاثر اور فیشن زدہ ہے وہ پشتو میں اپنے دور کے ایک بے باک افسانہ نگار تھے اور اپنے معاشرے کے بدنما داغوں کو چھپاتے نہیں تھے بلکہ ان کی نقاب کشائی اور رونمائی کرتے تھے"(9).

په دې حقله ډاکټر محمد اعظم اعظم صاحب د خپلو خيالاتو اظهار کوي وائي:

"د پښتو افسانې عبوري دور د بزمي د افسانو د ذکر نه بغېر بيخي نيمګړی معلومېږي. ځکه چې د هغه افسانې د پښتونخوا د چاپېرچل په مختلفو اړخونو رڼا غورځوي او زمونږ د

تمدني ژوند هنداره دي..... زمونږ نقادان وائي چې دبيدار سماجي شعور دغه افسانه نګار په خپلو افسانو کښې د پښتون قام د محروميو اومسائلو ډېره ښکلې څرګندونه کړې ده"(10).

د نادر خان بزمي په څنو افسانو ددې په موضوع او مضمون يا ددې په پېښه، واقعه او پلاټ باندې چې بنده سوچ او فکر کوي نو دا خبره ورته بيخي ښکاره رامخې ته شي چې د بزمي صاحب د خپل چاپيرچل متعلق مشاهده او مطالعه يعني (Study of Life & books) ډېره ژوره ده. د دوی داسې نورې افسانې هم د ذکر وړ دي چې پکښې ترقي پسند فکر خورېدو شعوري کوشش شوی دی. د محققينو او نقادانو د وېنا مطابق چې مونږه د هغوی کومې افسانې ذکر کړې که هغې ته وګورو نو دا خبره ښۀ ښکاره ده چې هغوی يو ترقي پسند سوچ لرلو او د ترقي پسند تحريك نه متاثره وو.

زمونږ موضوع د نادر خان بزمي د افسانو فن او معيار نۀ دی بلکې هغه ترقي پسند رجحانات دي چې د پښتو افسانه نګارانو باندې ډېر اثر غورځولی وۀ. ډېرو اديبانو دې تحريك سره ځان وتړلو خو داسې هم ډېر وو چې پوره اثر ئې قبول کړی وۀ او د تحريك باقاعده غړي نۀ وو. افسانه هغه صنف ؤ کوم چې ترقي پسند ادبي تحريك خپلو مقاصدو خپرولو د پاره ډېر موزون مېدان وګڼلو بلکې د اردو ادب ناقدينو دا وېنا هم ده چې افسانه په اصل معنيو کښې شروع کړی او وده ورکړې هم ترقي پسند تحريك ده او زمونږ افسانه نګاران چې د اردو افسانو نه ډېر متاثره وو هغه اثر په شعوري او لاشعوري طور قبول کړی دی چې په هغې کښې يو نوم د نادر خان بزمي هم دی چې د هغوی ذکر شوی افسانې لکه عارفه، مهرباني، د مور قاتل، انسان ؛ چې دا يو څو افسانې مونږ مطالعه کړې نو دا خبره واضحه شوه چې هغوی هم دې تحريك نه متاثره ؤ.

***

# حوالې

(1) ختټک، اجمل، قیصه زما د ادبي ژوند (اوله برخه) دسمبر 2005ء معراج دین پرنټرز لاهور، ص 109

(2) بخاری، فارغ، پاکستان کے صوبہ سرحد میں ترقی پسند تحریک، مضمون از ترقی پسند ادب مکتبہ عالیہ لاہور، 1994، صفحہ 216

(3) همېش خلیل، پښتانۀ لیکوال، اول ټوک، مخونه ۳۲۷، ۳۲۸

(4) ډاکټر انیتا اعظم، د پښتو په افسانوي ادب کښې د ښځې اولسي مقام او کردار، پېښور پوهنتون، ۲۰۱۰ء، مخ ۱۳۴

(5) اسیر منگل، پشتو افسانے کے سو سال، پشاور، ستمبر ۲۰۰۲، مخ ۲۴

(6) نادر خان بزمي، مهرباني، مشموله "پلوشې" بزم ادب اکوړه ختټک، ۱۹۹۵ء، ص ۵۷

(7) عظمت ہما، اردو اور پشتو کے نمائندہ افسانے، تقابلی جائزہ، ایضاً، ص ۱۲۳

(8) اعظم، ډاکټر محمد اعظم، پښتو ادب کښې کردار نګاري، پېښور، پښتو اکېډیمي، ۱۹۹۳ء، مخ ۱۱۲

(9) حنیف خلیل، مختصر تاریخ زبان و ادب، پشتو، مقتدرہ قومی زبان اسلام آباد، ۲۰۰۹ء، ص ۱۶۲

(10) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، پښتو اکېډیمي پېښور، ۱۹۹۳ء، مخ ۱۱۲